**<u>مطبوعاتي اعلاميه</u>**

## حوثیانو! له الله سبحانه وتعالی څخه ووېرېږئ، تاسو ادعا کوی چې د قرآني برید ساتونکي یئ؛

## خو په بدل کې تاسو د حزب التحریر هغه غړي نیسی چې د اسلامي دولت د تاسیس غوښتنه کوي!!!

حوثیانو د ۲۰۲۰م کال د مارچ په ۲۷مه ښاغلی عبدالرحمن محمد هزه د یمن په پلازمېنه صنعا ښار کې هغه مهال له یو مسجد څخه ونیولو چې د خلافت د سقوط د ۹۹م تلین په اړه یې د حزب التحریر د امیر لوی عالم شیخ عطا بن خلیل ابو رشته د وینا کاپیانې وېشلې؛ هغه خلافت چې د ۱۳۴۲ هـ.ق کال د رجب په ۲۸مه راوپرځېد او حزب یې د ۱۹۵۳م کال د تاسیس راهیسې د بیا راګرځېدلو لپاره کار کوي. لوی عالم شیخ تقی الدین نبهاني رحمة الله علیه او ورپسې د هغه ځایناستي لوی عالم شیخ ابو یوسف رحمة الله علیه یې د تاسیس لپاره د رسول الله صلی الله علیه وسلم طریقه غوره کړه، داسې بلاک یې رامنځته کړ چې غړو ته یې پکې د اسلامي شخصیت بڼه ورکړي، د فکري مبارزې له لارې د مسلمانانو له ژوند څخه د کفر نظریات او احکام لرې او پر ځای یې اسلامي احکام ځای پر ځای او همدا راز د سیاسي هڅو له لارې د مسلمانانو پر وړاندې د کفارو د دسیسو مخنیوی وکړي. د قدرت لرونکو خلکو څخه د نصرت په لټه کې دي، تر څو د خلافت دولت په رامنځته کولو سره د اسلام په واکمنۍ سره اسلامي خاورې سره یو ځای کړي.

حزب التحرير د یمن په ګډون د نړۍ په ګوټ ګوټ کې خپلو هڅو ته دوام ورکړی او مسلمانانو ته د خپل دولت د راپرځېدلو په تلین سره دوی ته وریادوي چې د خلافت دولت په تاسیس سره د اسلامي ژوند د بیا پیل لپاره متې راونغاړي.

هغه حوثیان چې د یهودانو له لوري قرانکریم ته د سپکاوي او د اقصی د ازادۍ لپاره یې په لاریونونو کې زموږ سرونه مات کړل، نن ورځ دوی د هغو کسانو پر وړاندې ولاړ دي چې د اسلامي ژوند د بیا پیل لپاره کار کوي او د خلافت دولت تاسیسوي، دوی همدا راز زموږ غوږونه کاڼه کړل چې وایي موږ سیاسي بندیان له بند څخه ازادوو. دوی په وروستیو کې ادعا کوله چې د کرونا ویروس د وېرې له امله غواړي له زندانونو څخه ټول بندیان ازاد کړي، په داسې حال کې چې دوی تر اوسه پورې خلک زندانونو ته اچوي. له عدالت پرته د بې ګناه کسانو نیول له زندانونو څخه بهر ناوړه پایلې لري، چې د ترسره کوونکو د زیان لامل ګرځي. الله سبحانه و تعالی فرمایي:

**[وَلَا تَحْسَبَنَّ اللَّهَ غَافِلاً عَمَّا يَعْمَلُ الظَّالِمُونَ إِنَّمَا يُؤَخِّرُهُمْ لِيَوْمٍ تَشْخَصُ فِيهِ الْأَبْصَارُ]**

***ژباړه: «اوس چې دغه ظالمان څه کوي، ته الله سبحانه و تعالی له دوی څخه غافل مه ګڼه، الله سبحانه و تعالی خو دوی د هغې ورځې لپاره***

***ځنډوي چې داسې حالت به وي چې سترګې به يې رډې پاتې وي. [ابراهيم: ۴۲]***

مګر پوه شئ چې د حزب التحرير غړي له زندانونو او ترهګرو څخه نه وېرېږي او نه هم ستړي کېږي؛ ځکه چې دوی ورسره مخ شوي او اوس هم د جنايتکارو رژيمونو سره لاس او ګرېوان دي چې د دې غوښتنې مخه نه شي نيولی.

موږ دوی ته وايو: اې تاسو چې د قرانکريم د بريد ادعا کوی، عبدالرحمن کوم جرم کړی دی؟ ايا دا د اسلامي خلافت د رامنځته کولو لپاره د مسلمانانو د يووالي غوښتنه ده!؟ کوم کار چې تاسو ترسره کوی، په قرانکريم کې يې چېرې يادونه راغلې ده؟ ايا تاسو هغه اياتونه ويلي، چې د مسلمانانو سياسي يووالی واجب بولي!؟ نو سبا به د خپل رب لپاره د خپل جرم ځواب ورکړی.

موږ له حوثيانو څخه غواړو چې د حزب التحرير غړي عبدالرحمن محمد هزه او عبدالله احمد ناجي، چې شاوخوا دری کلونه کېږي د الصالح ښار په کرغېږن زندان کې بندي دي، خوشي کړي. موږ غواړو چې دوی د ژر تر ژره خوشي شي؛ ځکه دوی هېڅ داسې جرم نه دی کړی چې د بند سزا ورکړل شي. که د الله سبحانه و تعالی پر ژمنې ايمان لری، بايد د هغو کسانو د زنداني کولو پر ځای د هغوی پښې ښکل کړی چې شپه او ورځ د رسول الله صلی الله عليه وسلم پر منهج د دويم راشده خلافت د تاسيس لپاره کار کوي. الله سبحانه و تعالی فرمايي:

[وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ]

ژباړه: ***«الله سبحانه و تعالی ستاسو د هغو کسانو څخه چې ایمان راوړي او ښه عملونه ترسره کوي، ژمنه کړې ده چې هغوی به پر ځمکه باندې هسې خلیفه ګان وګرځوي لکه له هغوی څخه مخکې یې چې تېر شوي خلک ګرځولي وو»[نور: ۵۵]***

همدا راز د رسول الله صلی الله علیه وسلم زیری دی:

**«...ثُمَّ تَكُونُ خِلَافَةٌ عَلَى مِنْهَاجِ النُّبُوَّةِ»**

ژباړه: ***«...او بیا به د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر منهج راشده خلافت وي».***

**د حزب التحریر- ولایه یمن مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۱ هـ.ق کال، د شعبان ۲٦مه**

**۲۰۲۰م کال، د اپرېل ۱۹مه**

**د صدور ګڼه: ۱۴۴۱/۱۷**